# خپل ماشومان همدا نن واکسین کړئ

## ډيفتريا، تيتانوس، توره ټوخله، پوليو (dTap-IPV) واکسين

### دا واکسين مو د کومو ناروغيو پر وړاندې ساتنه کوي؟



دا يو واکسين دی چې د څلورو مختلفو ناروغيو په وړاندې مو ساتنه کوي

**ډيپتيريا:** د پوزې او ستوني يو باکتريايی انتان دی چي کولی شي د تنفس يا بلعه کولو ستونزو ترځنګ، د زړه د ناروغيو او فلج (د بدن ټولې يا يوي برخی د حرکت کولو توان له منځه تللو) سبب شي.

**تيتانوس:** دا يو باکتريايی انتان دی چې په عصبي سيستم بريد کوي او د ژامې او د بدن د عضلاتو په ګډون چې تنفس کنټرولوي د هغوي د نه کنټرول کيدونکي سپاسمونو يا شخوالي لامل کيږي. دا کولی شي د بلعی، تنفس ، قبضيت او مړينې سبب شي.

Acellular pertussis **(توره ټوخله):** د هوايی لارو او سږو يو باکتريا انتان دی. دا د يو اوږدمهاله ټوخي لامل کيږي چې کيدای شي له څو اونيو څخه تر مياشتو پورې دوام وکړي او د تنفس ، د بلعی ستونزي ، او سينه بغل لامل کيږي.

پوليو: دا د عصبي سيستم يو وايروسي انتان دی چې کولی شي د فلج او مړينې لامل شي

### څوک بايد دا واکسين ترلاسه کړي؟



د واکسينونو معمول مهالويش د يوې برخې په توګه ماشومان دا واکسين د اضافي (بوسټر) دوز په توګه ترلاسه کوي که چيرې دوی ۴ کلن وي او دمخه يې د ډيفتيريا، تيتانوس، پرتوسس، او پوليو واکسين لومړني ۴ دوزونه اخيستي وي. هغه لومړني ۴ دوزونه لومړنی لړۍ بلل کيږي.

هغه ماشومان چې د 7 کالو څخه ډير عمر لري چې په ابتدايي لړۍ کې يې ټول دوزونه ندي اخيستي د dTap-IPV واکسين اضافي دوزونو ته اړتيا لري. د ډوزونو شمير چې تاسو ورته اړتيا لرئ ستاسو په عمر پورې اړه لري. د خپل روغتياپال څخه وپوښتئ چې تاسو څومره دوزونو ته اړتيا لرئ.

### څوک بايد دا واکسين ترلاسه نکړي؟

که تاسو د واکسين کومې برخې سره حساسيت لرئ.

که تاسو د دې واکسين وروسته يا ورته يو واکسين څخه شديد يا غير معمولي جانبي عوارض يا بده اغيزه پيدا کړي وي.



**د دې واکسين جانبی عوارض څه دي؟** جانبي عوارض يی خورا عادي او لنډمهاله دي، چي د ستني يا پيچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، درد ، ژړل ، ستړيا ، خارښت ، تبه ، ضعيفه اشتها ، د لمف نوډونو پړسوب او نور شامل دي. د جانبي عوارضو د اداره کولو لپاره د پيچکاري ځای کې د يخ ، لوند ټوکر په ايښودلو يا د تبي او درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen يا acetaminophen په څير درملو کارولی شو.

---

**که تاسو کومي اضافي پوښتني لرئ يا غواړئ خپل واکسين واخلی؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتيايی خدماتو ۸۱۱ شميري سره اړيکه ټينګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتيا مرکز ته په 587-392-8062 شميري اړيکه ټينګه کړي.
- د خپل کورنی ډاکټر يا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړيکه ونيسئ.


AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19

*Financial contribution:*

Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE